# د تِسالونيکيانو په نوم د پولوس رسول اول خط

## پېژندګلو

پولوس رسول د تِسالونيکيه
ايماندارانو ته دوه خطونه وليکل، دا
هغه ښار دے چرته چې پولوس

رسول او سیلاس د لږ وخت دپاره د
خدمت کار کړے وو. کله چې
خلقو د خوشخبرئ پیغام قبلولو نو
یهودیانو فساد او فتنه شروع کړه، د
تفصیل دپاره اعمال د رسولانو
اوولسم باب وګورئ. پولوس رسول
دا اولنے خط ستاسو د حوصلې او
هدایاتو دپاره ولیکلو او هغه نوؤ
ایماندارانو ته چې د معمول په ژوند

کښېږي خنګه رويه ساتل پکار دی او

ورسره د حضرت عيسیٰ مسيح د

دويم راتګ د سوال په حقله يې هم

وليکل. په دې کِتاب کښې د هغه

سوال جواب هم موجود دے چې

کله حضرت عيسیٰ مسيح دوباره

راشی نو څهٔ به کيږی؟ پولوس رسول

په دې زور اچوی چې د حضرت

عيسیٰ مسيح راتګ به د خلقو په

وړاندې وی، اوچت آواز او د بیګل

سُرنا سره، او هغوئ چې مړهٔ شوی

دی به هم هېر پاتې نهٔ شی، بلکې

هغوئ به اول راژوندی کړے شی.

هیڅا ته پته نشته چې څنګه او کله

به دا وشی. پولوس رسول ایماندارانو

ته دا لاربښونه کوی چې د مالِک

عیسیٰ مسیح تر راتلو پورې پوره

بېعیبه پاتې شی. د پولوس رسول

دپاره د مستقبل اُمید نه مطلب دا
نۀ دے چې ګنې د دې دُنیا نه
بېدخله کېدل دی، بلکې د
حضرت عیسیٰ مسیح د مړو نه
ژوندی کېدلو سره د مسلسل ایمان
او د روزانه معمول ژوند تېرولو یو
نوے جدوجهد دے. او هغه هم دا
تعلیم ورکوی چې تکلیفونه زغمل د
ایماندارانو دپاره یوه عام خبره ده، او

هغوئ ته په کلکه دا تعلیم ورکوی

چې په خپلو پښو ودرېدل او خپل

خوراک څښاک په خپله ګټل د

هغوئ ذمه واری ده. د حفظ کولو

دپاره ۵ : ۲۳ آیت ”خُدائ پاک

چې د سلامتئ سرچینه دے هغه

دې تاسو په خپله پوره پاک کړی،

او ستاسو ټول ژوند دې زمونږ د

مالِک عیسیٰ مسیح تر راتلو پورې

پوره بې‌عيبه وساتی.“

# دُعا او سلام

١ د پولوس، سيلوانوس او د
تيموتيوس د طرف نه، د
تِسالونيکيانو جماعت دپاره خط
کوم چې د خُدائ پلار او په مالِک
عيسیٰ مسيح کښې دے. په تاسو

دې فضل او سلامتی وی. ٢

ستاسو ټولو دپاره مونږ همېشه د

خُدائ پاک شُکر کوُو او هر وخت

تاسو په خپلو دُعاګانو کښې يادوو،

٣ مونږ هر وخت د خپل خُدائ

پاک او پلار په حضور کښې

ستاسو د ايمان کار او ستاسو مينه

ناک خِدمت او ستاسو کلک اُميد

چې په مالِک عيسیٰ مسيح دے

هغه یادوو. ۴ اے ورونړو او
خوېندو، مونږ پوهېږو چې تاسو په
خُدائ پاک کران یئ او هغهٔ تاسو
غوره کړی یئ. ۵ ځکه چې زمونږ
زیرے تاسو ته صرف په خبرو نهٔ
دے راغلے بلکې په قدرت سره، په
روحُ القُدس سره او په پوره اعتماد
راغلے دے. تاسو ته پته ده چې
مونږ ستاسو په مینځ کښې ستاسو

دپاره ښنګه ژوند تېر کړو. ۶ او
تاسو زمونږ او د مالِک په نقش قدم
ژوند اختيار کړو او د سختو
تکليفونو باوجود بيا هم تاسو کلام
په خوشحالئ سره د روحُ القُدس په
وسيله قبول کړو، ۷ او داسې تاسو
د ټولو ايماندارانو دپاره چې په
مِکدونيه او اخيه کښې دی، يو
مثال وګرځېدئ. ۸ ځکه چې

ستاسو په وجه نهٔ يوائِحې په مِكدونيه

او په اخيه كښې د مالِک كلام

خور شو بلكې په خُدائ پاک

ستاسو ايمان په هر ځائ كښې

داسې مشهور شو چې د دې په

حقله زمونږ د وينا څهٔ حاجت پاتې

نهٔ شو. ⑨ ځكه چې د هغه

مُلكونو خلقو په خپله د هغه هركلى

په حقله بيان وكړو، كوم چې

ستاسو په مينځ کښې زمونږ وشو، او
چې تاسو څنګه د بُتانو نه د ژوندى
او حقيقى خُدائ پاک خِدمت
کولو ته راواوړېدئ، ١٠ او چې د
آسمان نه د هغهٔ د زوئ د راتلو
اِنتظار وکړئ څوک چې هغهٔ د مړو
نه بيا راژوندے کړے دے يعنې
عيسىٰ، څوک چې به مونږ د
راتلونکى غضب نه بچ کوى.

# په تِسالونيکيه کښې د پولوس رسول خِدمت

١ اے ورونړو او خوېندو، تاسو
ته په خپله پته ده چې تاسو ته زمونږ
راتلل بې‌فائدې نهٔ وُو. ٢ خو اګر
کهٔ چې مونږ په فيليپی کښې ډېر

وکړېدو او بې‌عزته کړے شُو ځنګه

چې تاسو ته پته ده خو بيا هم مونږ

په خُدائ پاک کښې دا زړۀ ورتيا

وموندله چې تاسو ته مو د ډېرو

مخالفتونو باوجود د خُدائ پاک

زيرے دورسولو. ٣ ځکه دا

دعوت چې مونږ ورکوو دا د غلط يا

ناپاک نيت نه نۀ دے او نۀ مونږ

ستاسو د دوکه کولو کوشش کوُو،

۴ بلکې څنګه چې خُدائ پاک

مونږ د دې لائق وګڼلو او زيرے يې

راته وسپارلو، هم دغه شان يې مونږ

بيانوو، اګر چې دا مونږ د بنی آدمو

د خوشحالولو دپاره نه بلکې د

خُدائ پاک د خوشحالولو دپاره

بيانوو، څوک چې زمونږ زړونه

آزمائی. ۵ ځکه چې تاسو ته پته

ده او خُدائ پاک هم زمونږ ګواه

دے چې نۀ خو مونږ په خپلو خبرو

کښې خوشامندی کړې ده او نۀ مو

څۀ لالچ کړے دے. ۶ او نۀ مونږ

د خلقو نه د عزت طمع کوُو، نۀ

ستاسو نه، او نۀ د بل چا نه. ۷

اګر چې د مسيح د رسولانو په

توګه مونږ په تاسو بوج اچولے شو،

خو مونږ ستاسو په مينځ کښې

داسې نرمی وکړه لکه څنګه چې يوه

مور د غيږې بچی له پیٔ ورکوی.

٨ مونږ تاسو سره دومره مینه وکړه

چې نهٔ یواځې د خُدائ پاک زیرے

مو تاسو سره شریک کړو بلکې

خپل ځانونه مو هم ستاسو دپاره

قربان کړل، ځکه چې تاسو په مونږ

ډیر ګران وئ. ٩ اے ورونړو او

خوېندو، تاسو ته به زمونږ خواری او

تکلیفونه یاد وی چې مونږ شپه او

ورځ محنت وکړو او په تاسو مو بوج

وانۀ چولو چې مونږ تاسو ته د

خُدائ پاک زیرے اورولو. ⑩ تاسو

ګواه يئ او خُدائ پاک هم ګواه

دے چې تاسو ایماندارانو سره زمونږ

سلوک څنګه د پاکوالی، د صداقت

او د بې‌عيبئ وو. ⑪ څنګه چې

تاسو ته پته ده چې مونږ تاسو هر يو

سره داسې سلوک وکړو څنګه چې

یو پلار د خپلو بچو سره کوی، ١٢
تاسو ته به مو صلاح او ډاډګیرنه
درکوله او درباندې به مو زور اچولو
چې داسې ژوند تیر کړئ چې د
خُدائ پاک خوښ وی، چا چې
تاسو خپلې بادشاهۍ او لوییٔ ته
رابللی یئ. ١٣ او د دې دپاره مونږ
هم هر وخت د خُدائ پاک شُکر
کوُو چې کله تاسو ته د خُدائ

پاک کلام دروړسېدو کوم چې تاسو
زمونږ نه اورېدلے دے، نو تاسو دا
قبول کړو د بنی آدم د کلام په طور
نه بلکې د حقيقت په طور مو قبول
کړو چې دا د خُدائ پاک کلام
دے، او چې دا تاسو ايماندارانو
کښې کار هم کوی. ۱۴ اے ورورنو
او خوېندو، تاسو د خُدائ پاک د
هغه جماعتونو په نقش قدم شوئ

کوم چې په یهودیه کښې په عیسیٰ
مسیح کښې دی. ځکه چې تاسو
هم د خپل قام د خلقو نه هغه
تکلیفونه وزغمل کوم چې هغوئ ته
د یهودیانو نه رسېدلی وُو، ۱۵ چا
چې مالِک عیسیٰ او نبیان دواړه
ووژل او مونږ یې هم وشړلو. هغوئ
خُدائ پاک خفه کوی او د هر چا
مخالفت کوی. ۱۶ ځکه چې

هغوئ مونږ غیریهودیانو ته د

خلاصون د پیغام ورکولو نه منع

کوی. په دې طریقه هغوئ مسلسل

د خپلو ګناهونو پیالئ تر مورګو

ډکوی، او آخر پرې د خُدائ پاک

غضب نازل شی.

# د پولوس رسول د
# تِسالونیکیانو سره د
# بیا ملاقات خواهش

۱۷ اے زما ورونړو او خوېندو،
کله چې مونږ د لږې مودې دپاره
ستاسو نه په جسمانی توګه جدا شُو
نه چې د زړۀ نه، نو مونږ نور هم ډېر

په شوق سره ستاسو د بیا لیدلو
کوشش کوُو. ۱۸ ځکه چې مونږ
ټولو دا غوښتل چې ستاسو خوا له
در شُو خو ما پولوس بار بار د راتلو
کوشش وکړو خو شیطان زمونږ لار
ونیوله. ۱۹ د مالِک عیسیٰ مسیح
په حضور کښې کله چې هغه بیا
راشی زمونږ اُمید او خوشحالی او د
فخر تاج څهٔ دے؟ ولې هغه تاسو

نهٔ يئ څهٔ؟ ۲۰ آو، هم تاسو زمونږ

جلال او خوشحالی يئ.

۱ نو کله چې مونږ نور دا

برداشت نهٔ کړے شو، نو مونږ په

اتينيه کښې د يواځې پاتې کېدو

فېصله وکړه، ۲ نو مونږ تيموتيوس

چې زمونږ ورور او د مسيح په زيری

کښې د خُدائ پاک خادِم دے د

دې دپاره درولېږلو چې هغه تاسو

مضبوط کړي او تاسو له په ایمان

کښېي ډاډګېرنه درکړي، (۳) نو چې

څوک د دې مصیبتونو په وجه خطا

نۀ شئ، ځکه چې تاسو ته پته ده

چې دا مصیبتونه زمونږ په نصیب

کښې لیکلے شوي دي. (۴) په

حقیقت کښې کله چې مونږ تاسو

سره وُو نو مونږ تاسو ته ووئیل چې

په مونږ به دا تکلیفونه ضرور راځي

او دا هم دغه شان وشو لکه څنګه
چې تاسو ته ښهٔ پته ده. ۵ په دې
وجه کله چې ما دا نور زيات
برداشت نهٔ کړو نو ستاسو د ايمان
د حال معلومولو دپاره مې تيموتيوس
درولېږلو ځکه چې زهٔ يرېدلم چې
هسې نه چې شيطان تاسو آزمائيلی
يئ او زمونږ محنت بې‌فائدې شوے
وی. ۶ خو تيموتيوس اوس له تاسو

نه مونږ له واپس راغلو او ستاسو د

ایمان او د مینې ښهٔ زیرے یې

راوړلو. او مونږ ته یې دا هم ووې

چې تاسو تل زمونږ خیر غواړئ او

زمونږ د لیدو په خواهش کښې یئ

لکه څنګه چې مونږ ستاسو د لیدو

خواهش کوُو. ⑦ نو په دې وجه

اے وروڼو او خوېندو، مونږ د خپلو

ټولو کړاونو او مصیبتونو باوجود

ستاسو د ایمان په وجه تسلی

وموندله. ⑧ خو اوس مونږ حقیقت

کښې ژوندی یُو ځکه چې تاسو په

مالِک کښې مضبوط ولاړ یئ. ⑨

مونږ بیا څنګه ستاسو دپاره د

خُدائ پاک شُکر وکړُو د هغه

خوشحالی په بدل کښې کومه چې

ستاسو په وجه مونږ ته د خُدائ

پاک په حضور کښې حاصله شوې

ده؟ ۱۰ مونږ شپه او ورځ د زړۀ نه
ډېره دُعا کوُو چې مونږ تاسو بیا
ووینو او ستاسو د ایمان کموالے پوره
کړُو. ۱۱ زمونږ لاره دې اوس زمونږ
خُدائ پاک او پلار او زمونږ مالِک
عیسیٰ مسیح په خپله ستاسو په
طرف سمه کړی. ۱۲ او مالِک دې
ستاسو مینه د یو بل او د ټولو دپاره
داسې ډېره او مضبوطه کړی لکه

څنګه چې زمونږ مینه ستاسو سره

ده. ١٣ نو هغه دې ستاسو زړونه

مضبوط، بېعیبه او مقدس کړی،

کله چې تاسو زمونږ د خُدائ پاک

او پلار په وړاندې ودرېږئ، کله چې

مالِک عیسیٰ د خپلو مقدسينو سره

دوباره واپس راشی.

# د خُدایٔ پاک د خوښي ژوند

١ لنډه دا چې اے ورونړو او خوېندو، مونږ تاسو ته د مالِک عیسیٰ په نوم مِنت کوُو چې تاسو داسې چال چلن کوئ په کوم چې خُدایٔ پاک خوشحالیږی، لکه څنګه چې مونږ تاسو له تعلیم

درکړے دے. تاسو دغه شان کوئ،
خو مونږ دا ستاسو د ترقئ دپاره وايو
چې نور هم دغه شان کوئ. ٢
ځکه چې تاسو ته د هغه تعليماتو
پته ده کوم چې مونږ تاسو له د
مالِک عيسىٰ په اختيار درکړی دی.
٣ ځکه چې د خُدائ پاک
مرضی دا ده چې تاسو پاک شئ،
يعنې د زناکارئ نه ځان وساتئ.

۴ او تاسو هر يو دا خبره زده کړئ
چې څنګه خپل ځان په پاکوالی او
عزت سره قابو وساتئ، ۵ نۀ د
شهوت په جوش سره، او نۀ لکه د
هغه بېدينو په شان څوک چې
خُدائ پاک نۀ پيژني. ۶ او په دې
معامله کښې دې څوک د خپل
ورور په حق تجاوز نۀ کوی او نۀ
دې د هغۀ سره دوکه کوی. ځکه

چې مالِک به هغه ټولو خلقو له سزا
ورکړی شوک چې داسې کارونه
کوی، لکه څنګه چې مونږ تاسو ته
د شروع نه وئیلی وُو او خبردارے مو
درکړے وو. ⑦ خُدائ پاک مونږ د
ناپاکئ دپاره نه، بلکې د پاکوالی
دپاره رابللی یُو. ⑧ نو په دې وجه
شوک چې دا نۀ منی، نو هغه
انسانی حُکمونه نه، بلکې خُدائ

پاک نۀ منی چا چې تاسو له خپل
روحُ القُدس هم درکړے دے. ۹
خو اوس مونږ ته د دې ضرورت
نشته چې تاسو ته د ایماندارانو سره
د مینې کولو په حقله ولیکو ځکه
چې خُدائ پاک په خپله تاسو له
دا تعلیم درکړے دے چې یو بل
سره مینه کوئ. ۱۰ او حقیقت
کښې تاسو په ټوله مِکدونیه کښې

د ټولو ایماندارانو سره مینه کوئ.

خو عزیزانو، مونږ تاسو ته دا

خواست کوُو چې خپله مینه نوره

هم سبوا کړئ. ۱۱ په آرام سره ژوند

تېرول خپل مقصد جوړ کړئ او په

خپل کار کښې مشغول اوسئ او په

خپلو لاسونو په کار کسب کښې

همت کوئ، څنګه چې مونږ تاسو

ته تعلیم درکړے دے. ۱۲ نو چې

تاسو د غیر ایماندارانو سره په ښۀ
طریقه سلوک کوئ او د چا هم
محتاج نۀ یئ.

# د مالِک راتلل

١٣ خو اے وروڼو او خوېندو،
مونږ دا نۀ غواړو چې تاسو ناخبره
پاتې شئ د هغوئ په حقله څوک

چې مړۀ دی، نو چې تاسو د هغه
نورو په شان غمژن نۀ شئ د چا
چې اُمید نۀ وی. ۱۴ ځکه چې
زمونږ دا ایمان دے چې عیسیٰ مړ
شو او بیا ژوندے شو، نو دغه شان
به خُدائ پاک هغه څوک هم د
عیسیٰ سره واپس راولی څوک چې
د هغۀ سره په ایمان مړۀ شوی دی.
۱۵ نو په دې وجه مونږ تاسو ته د

مالِک د کلام په مطابق وایو مونږ
څوک چې ژوندی یُو، او د مالِک
تر راتلو پورې پاتې یُو، مونږ به د
هغه چا نه وړاندې د مالِک سره
مِلاو نهٔ شُو هغه څوک چې
مخکښې مړهٔ شوی دی. ۱۶ ځکه
چې مالِک به په خپله د آسمان نه
د اوچت آواز سره، او د مقربې
فرښتې د آواز سره، او د خُدائ

پاک د بیګل د آواز سره راکوز شی،
او په هغهٔ کښې مړهٔ شوی به اول د
قبر نه راپاځی. ۱۷ او بیا مونږ ځوک
چې ژوندی یُو او پاتې یُو به د
هغوئ سره یو ځائ په وریځو کښې
پورته کړے شُو د دې دپاره چې په
هوا کښې د مالِک سره مِلاو شُو،
او دغه شان به مونږ تل تر تله د
مالِک سره یُو. ۱۸ نو ځکه تاسو په

دي خبرو سره يو بل له ډاډګيرنه

ورکوئ.

١ نو اے ورونړو او خوېندو،

اوس د هغه وختونو او د موقعو په

حقله تاسو ته د څۀ ليکلو حاجت

نشته چې دا به کله پېښ شی. ٢

ځکه چې تاسو په خپله ښۀ خبر

يئ چې د مالِک خُدائ د قيامت

ورځ به لکه د غل په شان ناګهانه

راشي. ۳ کله چې هغوئ وائی

چې، "امن او سلامتی ده،" نو

ناڅهانه به په هغوئ هلاکت راشي

لکه څنګه چې په اُمیدوارې ښځې

د ماشوم پیدا کېدو درد راشی، نو

هغه خلق به تښتېدلے نۀ شی. ۴

خو اے ورونړو او خوېندو، تاسو په

تیارۀ کښې نۀ یئ د هغه ورځ دپاره

چې تاسو به لکه د غل په شان

حېران کړي. ⑤ ځکه چې تاسو

ټول د نُور او د ورځې بچي يئ، او

مونږ نۀ د شپې يُو او نۀ د تيارې يُو.

⑥ نو بيا دې مونږ د نورو په شان

اودۀ پاتې نۀ شُو بلکې مونږ دې

بېدار او په هوش کښې اوسو. ⑦

ځکه خوک چې اودۀ کيږی هغوئ

په شپه کښې اودۀ کيږی، او خوک

چې نشه کيږی هغوئ په شپه کښې

نشه کیږی. ⑧ خو مونږ چې د
ورځې سره تعلق ساتو نو په کار دی
چې مونږ په هوش کښې اوسو، او د
ایمان او د مینې زغره واغوندو او د
خلاصون د اُمید ټوپۍ په سر کړُو.
⑨ ځکه چې خُدائ پاک مونږ د
غضب دپاره نهٔ يُو مقرر کړی،
بلکې د دې دپاره چې مونږ د خپل
مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله

خلاصون بیامومو. ۱۰ هغه زمونږ
دپاره ځکه مړ شو نو کۀ مونږ
ژوندی یُو یا کۀ مړۀ، نو مونږ به ټول
د هغۀ سره یو ځائ اوسیږو. ۱۱ نو
په دې وجه تاسو یو بل له ډاډ
ورکوئ او یو بل جوړوئ، څنګه چې
په حقیقت کښې تاسو هم دغه
شان کوئ.

# آخري نصيحتونه

(١٢) خو اے ورونو او خویندو،

مونږ تاسو ته مِنت کوُو، چې څوک

ستاسو په مینځ کښې خواری کوی

او په مالِک کښې ستاسو لار

ښودونکی وی او تاسو ته نصیحت

کوی د هغوئ قدر کوئ. (١٣) او د

هغوئ د کار په سبب په ډېره مینه د

هغوئ ډېر عزت کوئ، او په خپل
مينځ کښې په امن و امان ژوند
تېروئ. ۱۴ او اے عزيزانو، مونږ په
تاسو زور راوړُو چې سستو خلقو ته
نصيحت کوئ، بې‌زړۀ خلقو له
ډاډګيرنه ورکوئ، د کمزورو مدد
کوئ، او ټولو سره د صبر معامله
کوئ. ۱۵ ګورئ چې څوک هم په
تاسو کښې د بدۍ په بدله کښې

بدی ونهٔ کړی بلکې همېشه
کوشش کوئ چې د یو بل سره او د
ټولو سره نېکی کوئ. ۱۶ او همېشه
خوشحاله اوسئ. ۱۷ په دُعا کښې
ناغه مهٔ کوئ. ۱۸ په هر حال
کښې شُکر کوئ ځکه چې دا په
عیسیٰ مسیح کښې ستاسو دپاره د
خُدائ پاک رضا ده. ۱۹ د روحُ
القُدس بل شوے اور مهٔ مړ کوئ.

٢٠ د چا پيشګويۍ ته سپک نظر
مۀ کوئ. ٢١ خو ټولې پيشګوياني
وآزمايئ او چې کومې ښې وى هغه
راټينګوئ. ٢٢ د هر قِسم بد کار نه
ځان ساتئ. ٢٣ خُدائ پاک چې د
سلامتۍ سرچينه دے هغه دې تاسو
په خپله پوره پاک کړى، او ستاسو
ټول ژوند دې زمونږ د مالِک عيسىٰ
مسيح تر راتلو پورې پوره بې‌عيبه

وساتی. ۲۴ څوک چې ستاسو

رابلونکے دے هغه وفادار دے او

هغه به هم دغه شان وکړی. ۲۵

اے ورونړو او خویندو، زمونږ دپاره

دُعا کوئ. ۲۶ زما د خوا نه ټولو

ایماندارانو ته په پاکې مینې سره

سلام ووایئ. ۲۷ زۀ تاسو له د

مالِک په نوم حُکم درکوم چې دا

خط ټولو ورونړو او خویندو ته

واوروئ. ۲۸ زمونږ د مالِک عيسىٰ
مسيح فضل دې تاسو سره وى.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزى ۲۰۱۹